**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د خلافت په نشت کې به د سریلانکا مسلمانان تل د بودايي تندلارو له تاوتریخوالي څخه په وېره کې وي**



**خبر:**

د مارچ پر ٦ مه، د سریلانکا حکومت په ټول هیواد کې د بودايي تندلارو له لوري د کنډي (Kandy) په مرکزي ولسوالۍ کې د لږکیو مسلمانانو پر وړاندې تر یو لړ بریدونو وروسته بېړنی حالت اعلان کړ. په سلګونو بودایانو چې ډېری یې د هیواد له سنهالیز توکم (Sinhalese) سره تړاو لري؛ د مسلمانانو پر یو شمېر کار ځایونو، کورونو او مسجدونو د لرګیو، ډبرو او پطرولي بمونو پر مټ بریدونه ترسره کړل او ډېری یې وسوځول. د رسنیو د راپورونو له مخې، یو تنکی مسلمان د یوه سوځېدلي کور په دننه کې مړ وموندل شو. یوه مسلمان مدني فعال وویل: « خلک د سړکونو پر سر د مسلمانانو په لټه کې و ان په هغو بسونو کې یې کتل چې د سینهالا له کلیو څخه تېرېدل». د پر له پسې ادعاګانو پر بنسټ، کله چې د مسلمانانو کورونه او دوکانونه ړنګېدل، پولیس او امنیتي ځواکونه بې تفاوته ولاړ وو او یوازې یې ننداره کوله. دوی د یادو جنایتکارانو پر وړاندې هیڅ اقدام و نه کړ او نه یې هم بریدګر ونیول.

**تبصره:**

په دې وروستیو کلونو کې په سریلانکا کې د مسلمانانو پر وړاندې تبعیض او تاوتریخوالی له دې امله اوج ته رسېدلی، چې په خلکو کې بودایي ملتپالې ډلې او بودایي ملتپال احساسات زیات شوي دي. د ۲۰۱۴م کال په جون کې د الوتګما او بیروالا په ښارګوټو کې د مسلمانانو پر وړاندې مرګوني بریدونه او چورچپاول ترسره شو. سختدریځه بودایي راهبان په ځانګړې توګه واکمن بودایي ځواک (BBS) چې په میانمار کې یې له خپلو سیالو بودایانو څخه الهام اخیستی او دغه راز په دولت کې د خپلو سیاسي متحدینو ملاتړ هم ورسره دی، په مسلمانانو کې ډلهییز تاوتریخوالي ته لمن وهي. په سریلانکا کې مسلمانان په وېره او ډارووونکي حالت کې ژوند کوي. دوی فکر کوي هسې نه چې د تاوتریخوالي بله څپه پیل شي او له خپلو مذهبي حقونو بې برخې شي.

په سریلانکا، لوېدیځ او نورو هیوادونو کې لږکي مسلمانان ډېری وخت فکر کوي چې د دوی د امنیت، ګټو او حقونو د ساتلو یوازېنۍ لار د دولت په ډیموکراتیک بهیر کې برخه اخیستل او د هغو سیاستوالو یا ګوندونو ملاتړ کول دي، چې د دوی په اند تر ډېره بریده د مسلمانانو؛ پلوي دي او یا هم په سیاست کې چپ اړخي دي. د ۲۰۱۵م په ولسمشریزو ټاکنو کې ډېریو مسلمانانو د هیواد د اوسني ولسمشر میتریپالا سریسنا لپاره ټاکنیزه مبارزه وکړه او په دې هیله یې رایه ورکړه، چې دی به هغه ډله ییز تاوتریخوالی له منځه وړي، چې د پخواني حکومت له لوري رامنځته شوی و او مشري یې مهیندا راجاپاکاسا کوله. هېر مو نه وي، چې پخواني حکومت له ملتپالې بودایي ډلې (BBS) سره اړیکې لرلې او د بودایي ملتپالنې ملاتړي و. میتریپالا سریسنا د مسلمانانو د رایو لاسته راوړلو په موخه ژمنه وکړه، چې واک ته تر رسېدلو وروسته به د مسلمانانو پر وړاندې د جرمونو او بریدونو په تړاو څېړنې کوي. خو دی او د ده حکومت نه یوازې دا چې په یاده موضوع کې یې کوم د پام وړ پرمختګ و نه کړ، بلکې د بودایي تندلارو له لوري د مذهبي توپیر په مخنیوی کې هم ناکام پاتې شول او ان هغه کسان یې چې د تاوتریخوالي لامل وو؛ پړ و نه ګڼل. د ده په پیر کې د ملتپالې بودایي ډلې شهرت زیات شو او بودایي ملتپالنې نوره هم وده وکړه. په حقیقت کې ملتپال او ولسپال مشر مهیندا راجاپکسا د سږ کال محلي ټاکنې په خورا لوی توپیر سره وګټلې.

د مسلمانانو په توګه، موږ باید پوه شو چې په نیمګړې سیکولر ډیموکراتیک سیستم کې د سیاسي لوبو له لارې به مو د خپلو حقونو او ګټو خوندي کول تل له ناکامۍ سره مخ شي. لومړی، په یاد سیستم کې سیاستوال او ګوندونه د واک لاسته راوړلو په موخه د رایه ورکوونکو له بېلابېلو ډلو سره ژمنې کوي، خو ډېر ځله د ژمنو په ترسره کولو کې پاتې راځي. وروسته دوی د عامو خلکو له احساساتو څخه ګټه اخلي، تر څو په واک کې پاتې شي. له دې پرته، چې په پام کې ونیسي چې یاد احساسات څومره کرکجن دي یا هم په لږکیو ناوړه اغېز کوي. تېر کال په سریلانکا کې پر مسجدونو او د مسلمانانو پر شخصي کاروبارونو له یو لړ پرله پسې بریدونو وروسته، د سریلانکا مسلمانانو د شورا مرستیال حلمي احمد څرګنده کړه: « موږ له ولسمشر سره پر مسجدونو باندې د بریدونو په تړاو دوه ځلې

وکتل. نوموړي ژمنه وکړه چې په دې هکله به اقدام کوي، خو هيڅ يې و نه کړل». ده زياته کړه: « کله چې موږ له لومړي وزير سره وليدل، هغه وويل چې حکومت نه غواړي په عام محضر کې د مسلمانانو په وړاندېز سره د بودايي راهبانو پر وړاندې اقدام وکړي».

دويم او تر ټولو مهم دا دی چې الله سبحانه و تعالی مسلمانان له هغه سياسي نظام څخه منع کړي چې حاکميت يې د انسان په لاس کې وي او پکې په خپله خوښه قوانين جوړ کړي. له دې امله په فاسد سيکولر نظام کې د سياسي لوبو ترسره کول نه يوازې د دې دنيا بلکې د اخرت د زيانمنېدو لامل هم گرځي. له دې امله چې په سيکولر سياسي نظام کې سياستوال او پارلمانونه په طبيعي توگه د داسې قوانينو له جوړولو څخه ناتوانه دي، چې د ټولو لپاره عدالت په پام کې ونيسي. الله سبحانه و تعالی په دې اړه فرمايي:

﴿ثُمَّ جَعَلۡنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ فَٱتَّبِعۡهَا وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ﴾

[الجاثيه:۱۸]

ژباړه: له دې وروسته مو *تاسو ته قانون جوړ کړ، نو هغه پلی کړه او د هغو خلکو د خيالاتو او غوښتنو پيروي مه کوه، چې علم نه لري.*

په سريلانکا او د نړۍ په هر گوټ کې د لږکيو مسلمانانو لپاره له وېرې څخه د راوتلو يوازېنۍ حللاره دا ده، چې په اسلامي خاورو کې خلافت تاسيس شي، چې په واقعي توگه د مسلمانانو او اسلام له گټو څخه استازيتوب وکړي، له دوی څخه د يوه ډال او ساتوونکي په توگه له دې پرته چې چېري اوسېږي ساتنه وکړي. دا خلافت به د نبوت پر منهج رېښتنی خلافت وي. لکه څرنگه چې اوس هغه خلافت نشته او مسلمانان د ځان ساتلو کوم خوندي ځای نه لري او بودايي تندلاري له وېرې پرته د مسلمانانو پر وړاندې د کرکو ننگه او پرې بريدونه کوي. بودايان اوس په ارامه ناست دي او هېڅ د وېرې احساس نه کوي، ځکه دوی پوهېږي چې د اسلامي نړۍ دولتونه او مشران به د مسلمانانو د ساتنې او ملاتړ لپاره يو عملي گام هم پورته نه کړي. دا هغه څه دي چې موږ يې په ميانمار، سوريه، کشمير، مرکزي افريقا او نورو ځايونو کې وينو. خو د خلافت په تاسيس سره به د مسلمانانو حال داسې نه وي او خلافت به تش شعارونه نه ورکوي، بلکې عملي اقدام به کوي. خلافت به ان د يوه مسلمان زيانمنېدل هم و نه زغمي او د هغو کفارو په زړونو کې به وېره خپره کړي، کوم چې مسلمانان گواښي او له ډار سره يې مخ کوي. د بېلگې په توگه، موږ د اسلام تر حاکميت لاندې د هندوستان د لوی مغلي سلطان اورنگ زيب علمگير يادونه کوو، چې د ميانمار په

راخین کې یې د اوسني بدنامه بودایي رژیم د نیکونو پیاوړې امپراتوري ړنګه کړه او مسلمانان یې د دوی له ظلم څخه وژغورل. موږ د سریلانکا پر مسلمانانو ږغ کوو، چې باطل سیکولر سیاست پرېږدئ او د پرتمین خلافت د بیا تاسیس په موخه متې را بډ وهئ، ترڅو د ډار حالت مو له منځه ولاړ شي، د ډاډمن او ښېراز ژوند خاوندان شئ.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکواله: د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې مشره**

**ډاکتر نسرین نواز**

**ژباړن:صدیق احمدزی**